مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم

۲۰۲۳/۱۱/۰۹

# ماهیپر د مسافرو قتلګاه

د کابل - جلال اباد له خوني لارې وخت نا وخت د مسافرو د مرګونو خبرونه اورو. ټرافيکي پېښې په هر هېواد کې کېږي، هېڅ ملك له دې بلا يو مخ نه دی خلاص. په داسې پېښو کې دوه شيان مهم دي، لارې او ډرېوران. په نورو ملکونو کې دواړو ته پام کېږي. د ډرېورۍ لايسنس په اسانه چا ته نه ورکول کېږي. خلك مجبور وي، چې څو مياشتې د ډرېورۍ او ټرافيکي قواعدو کورسونه ووايي، له کورسه وروسته سخت امتحان ځنې اخيستل کېږي او چې کامياب شول، بيا لايسنس ورکول کېږي. که څوك د نيشې په حال کې موټر وچلوي يا بله مهمه سرغړونه وکړي، نو لايسنس يې بېرته اخيستل کېږي او دی مجبورېږي چې له سره کورس او امتحان ته ځان تيتګ کړي. زموږ په ملك کې ډېرو کسانو ته لايسنس د کور شاته وروړل کېږي او بيا يې څوك پوښتنه هم نه کوي.

يو ځل له مېرانشاه پېښور ته تلم، د کوهاټ غرونه تر ماهيپر ډېر پېچومي او کږلېچونه لري، خو هلته له هر کږلېچ سره لويې محدبې هنداري لګېدلې وې، له مقابل لوري راتلونکي ګاډي په هندارو کې اوچت ښکارېدل. خو د ماهيپر په پيچومو کې هېڅ داسې څه نشته، اکثر وخت بې احتياطه چلونکي دي ته سوچ نه کوي چې له هغې خوا به موټر راروان وي، په کږلېچونو کې خپل لاس پربېږدي او په زيات سرعت په مقابل لاس کې موټر ځغلوي، چې له بلې خوا موټر پرې راشي، دی موټر نه شي قابو کولای او يا له غره لګېږي، يا په سين کې لوېږي او يا له مقابل موټر سره مخامخ جنګېږي، چې په درېواړو حالتونو کې مرګ ژوبله خامخا پېښېږي. په ټرافيکي قواعدو کې يوه قاعده دا ده، چې په کږلېچونو کې، په پله باندې، په تونل کې او په چړايي کې د سبقت کولو يعني له بل موټره د مخته کېدلو اجازه نشته. دا په دې خاطر چې مقابل لوری نه شي ليدلی، ځای تنګ وي او که له هغې خوا بل موټر درباندې راشي، نو ټکر به کوي.

د سرخکان په سيمه کې يو پل اوبو وړی دی، سړك سم دم جوړ دی، ته چټك روان يې، يو ناڅاپه وينې چې مخې ته دې پل نشته. بلدي موټروانان خو خبر وي، مګر نابلده ډرېور خامخا له خطر سره مخ کېږي. تر اوسه پورې څو واري موټرونه په همدې ځای کې لاندې لوېدلي او سپرلی يې وژل شوي يا ټپيان شوي دي. په داسې ځايونو کې بايد لږ تر لږه سل متره وړاندې د خطر علامه لګېدلې وي، چې موټروان پوه شي، موټر سوکه کړي او له خطره بچ شي، خو په دې لاره کې هېڅ شی نشته. ان شپږ مياشتې مخکې چې پر دې لار راتلم، پل نړېدلی و، خو تر اوسه پورې هم چا نه دی جوړ کړی.

د دې لارې بله ستونزه دا ده چې د حفظ و مراقبت پروګرام ورته نشته، که د لارې واړه عوارض په مناسب وخت کې ترميم نه شي، نو کرار کرار غټېږي او بيا په لږو پيسو د جوړېدو نه وي. په ماهيپر تونل کې کله کله يو موټر چپه شي او بيا ساعتونه او ان پوره ورځ  يا څو ورځې لاره بنده وي. هلته کرېن، بلډوزر او نور وسايل نشته چې په داسې مواردو کې چابك لاس په کار شي او لاره خلاصه کړي. په داسې حالاتو کې هلته هېڅوك نه وي، چې نورو مسافرو ته حال ووايي، چې څه پېښه ده. پکار خوا دا ده، چې ان په سروبيو کې موټروانانو ته وويل شي، چې دې خوا ته لاره بنده ده، پينځه ساعته يا يو شواروز وخت نيسي، چې خلاصه شي. که داسې وشي، نو  موټرونه به يا بېرته جلال اباد ته وګرځي او يا به په لته بند باندې راشي. دې سره به د خلکو وخت هم ضايع نه شي او د  ګنې ګونې مخه به هم ونيول شي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

د جلال اباد لاره خو خير، دلته په کابل کې د سرسبزي چوك سره هغه لاره چې ښارندوي بلاکونو ته ورځي له شپږو اوونيو راهيسې بنده ده. ښاروالۍ د ويالې د رغولو لپاره سړك کېندلی دی، خو نور کار يې پېريانو ته پرېښی دی. که څوك کار وکړي، همدغه ويالـه او پر سر يې پل زيات نه زيات په يوه اونۍ کې جوړېږي، خو موږ يې په دوو مياشتو کې هم نه جوړوو. د دې پخ کار تاوانونه خورا زيات دي. څوك چې هغې خوا ته ځي بايد لږ تر لږه څلور کيلومټره اضافي مزل وکړي او د سرای شمالي په لاره لاړ شي. دې سره د موټرو چلند زياتېږي، تېل زيات مصرفوي، ډېر لوگی هوا ته خوشې کوي او چاپېريال لا زيات ککړوي. که د تيلو پيسې د موټروالاو له جيبه هم ځي، تاوان يې ټولو ته رسېږي، ځکه چې په ټولنه کې انسانان لکه زنځير سره تړلي وي، د يوه تاوان هرومره نورو ته هم زيان رسوي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ